# د پښتو ژبې او ادب
# نړيوال حيثيت ته يو نظر

**Pashto language and Literature in Global Perspective**

ډاکټر نصرالله وزير

**Abstract**:

This paper presents a detailed account of the connection and relevance of recent Pashto language and literature in the context of the objective socio-political and cultural realities of Pashtoon society both in Afghanistan and Pakistan. The various academic initiatives, scholarly interventions and independent commitments of the individuals have effectively contributed in promotion of language and literature. The literature has taken particular shifts both in terms of theoretical contents and techniques. The dignity of Pashtoon tradition and its collective image has catered central position gradually. The paper also through lights on the impacts of the Afghan revolution (1979) on the Pashto literature. It is argued that Pashto literature and language are diversified and have become effective and relevant to the emerging needs of Pashtoon society and have also touched the universal literary standards.

هغه ژبې او ادبيات چې په نړۍ کښې د آفاقي حيثيت وړ دي، يا په نړيوال ادب کښې يې ځانته يو منفرد مقام ټاکلے او د دې وړ دي چې هغه دې د نړۍ دا نسانو د احساساتو او د هغوئ د ټولنيز ژوند د مسايلو ترجماني بې د څۀ رنګ و نسل، علاقه، قوميت يا مذهب وکړلے شي .لکه ډاکټر سيد ابوالخير کشفي د دغه شان ادب په حقله ليکي چې "آفاقيت کس فنپارے ك وه خصوصيات هے جس ك بنا پر اس ك معنويت کس مخصوص واقعه، صورتحال، مقام، زمانے او شخص ك حدوں کو توڑت هوئ اپنے آپ کو اس آفاق اور کائينات پر محيط کر ديت هے، اور آفاقيت ك تخليق اس وقت ممکن هے جب فنکار زندگ کو ايك کُل کے طور پر ديکھ سکے".(۲۵)

آفـاقي ادب هغـه وخـت را پورتـه کيـږي څـۀ وخت چې يـو ليکـوال يـا د هغـۀ ليـك دموضـوع پـر ځـاے اساسـي او همـه ګيـر نړيـوال انسـاني اقـدار وڅيـړي، کـوم چې د درسـت انسـانيت او انسـاني ټـولنې تـر مـنځ قـدرِ مشـترك خصوصـيات لري، يعنـي هغـه دې د يـوې مخصوصـې علاقـې، جغرافيـې، نسـل، رنګ، قـوم، مـذهب يـا د يـو مخصـوص طبقـې مخصـوص وختـي يـا طويـل مشـترك عزائمـو سـاتندوئ نـۀ وي. يـا دغسـي ليکونـه چې په کښـې انسـان تـه د انسـانيت پـه نظر کتـل يـا د يـو سـتر انسـان خصوصـيات پـه انسـان کښـې را زيـږوي يـا د نړيـوالې انسـاني وروروالـي پيغامونـه دې ويړيـا لـري يعنـي دغسـي ادب دې د انسـاني ټـولنې پـه يـو مثـالي نمونـه تشـکيل پسـې هڅـې کـوي، او هغـه دې د "موضـوع عظمـت او همـه ګيريـت د ادب د آفاقيت يو بنيادي حيثيت لري".(۲۶)

نړيـوال ادب ځانتـه څـۀ داسـې جـلا ادب نـۀ دے چې هغـه دې د عـام ادب څخـه پـه مخصوصـه کرښـه تـوپير ولـري بلکـې پـه هـر ادب کښـې دننـه د هغـه ادب آفاقيـت وي چـې هغـه بـې د څـۀ مخصـوص لېبـل د عـام انسـان او د هـر ځـاے د انسـان د انسـانيت او د اهغـوئ د حقوقـو د دفـاع خبـره کـوي، يعنـي دلتـه ليکونکيـو او د هغـوئ تخليقـات پـه يـو مخصـوص خـول يـا دائـره کښـې مقيـد نـۀ وي، او نـۀ د جغرافيايي حدود او طبقاتي تضاداتو ښکار وي.

خـو د دې معنـا دا هـم نـۀ ده، چـې يـو اديـب يـا شـاعر يـا فلاسـفر دې د خپـل قـوم، اولـس او ملـت د مسـايلو نـه ورا بـس د بـل يـا د نـړۍ د انسـانانو د سـتونځو د حـل را ايسـتو پـه تکـل کښـې دې سـرګردانه وي، بلکـې هغـه دې اول د خپـل ملـت، قـوم او اولـس بنيـادي مسـايلو تـه تـرجيح ورکـوي خـو د خپـل ملـت و قـوم دپـاره د مراعـاتو حصـول يـا د هغـوئ د مسـايلو حـل دې د نـورو انسـانانو د حقوقـو پـه توږنـه او شـو کونـه نـۀ وي. پـه ادب کښـې د آفاقيـت يـا د بـين المليت اثـر څـۀ داسـې نـۀ دے چې د يـو خـاص دور نـۀ پس را شـروع شـوے، بلکـې دا پـه فـن پـاره کښـې پـه خپلـه موجـود وي. د ادب د نړيـوال ازم يـا د انټـر نېشـنل ازم دپـار ه لازمـه ده چـې هغـه دې د خپـل چاپېريـال ژوره مطالعـه ولـري او د خپلـې ټـولنې انسـان تـه دې نړيوالـه انسـاني وروروليـ او د هـرې انسـاني ټـولنې حقوقـو او فرائضـو احتـرام هـم ور وپېژنـي ،دغسـې ډول ادبيـات چـې پـه هـر دور کښـې دانسـاني ټـولنې دفطـري

غوښتنو مطابق تخلیق شوے وي د آفاقیت خصوصیت لرلے شي چې مثالونه ئې په هر ادب کښې ویریا دي .

د ژبو او ادبیاتود عالمګیریت په دغه بحث کښې به دلته د پښتو ژبې او ادب د آفاقي حیثیت لرلو په حواله دا په ثبوت رسول دي چې پښتو ژبه او ادب هغه خصوصیات لري/ لرلي دي کوم چې د یوې آفاقي ژبې آفاقي ادب دپاره لازم دي هغه که په تاریخي لحاظ ده ، که د دې ژبې د وسعت او رد و قبول د ماده په لحاظ ده او دا خبره په ثبوت رسېدلې ده چې پښتو ادب په خپل لرغوني دور کښې د هغه مهال د وخت د تقاضو مطابق هغه ګرد صلاحیتونه پوره کړي دي کوم چې د یوې لویې او همه ګیر حیثیت لرونکې ژبې یاادب دپاره لازم راغلي دي.

که چرته د بادشاه دار یوش د فرمانونو ژبو ته ځیر شو نو د خوا و شاهغه ژبې چې دۀ فرمانونه په کښې اجرا کړي وو نو هلته یې د پښتو ژبې انفرادیت هم په نظر کښې ساتلے وۀ کوم چې په هغه مهال د پښتو ژبې د همه ګیریت یوه لویه نخښه څرګنده وي ، داریوش باچا (486- 522 ق م) چې د بېستون په ډبره کوم لیك خوندي کړے دے دهغې په هکله استاد عبدالحٔ حبیبي صاحب په خپل کتاب "د پښتو ادبیاتو تاریخ" کښې داسې لیکي:

" داریوش د ایران د هخا منشي د کورنۍ یو مشهور باچا دے چې 522 ق م څخه یې 486 ق م پورې سلطنت کړے دے، د دۀ په امر د بغستان (بېستون) پر غرۀ یو ډبر لیك کندل شوے دے، او په څلورم ستون او 63/ 64 بند کښې ئې داسې یوه اخلاقي حماسه لیکلې ده، دار یوش باچا وائي،'او ور مزدا او نورو بغانو (خدایانو) ځکه زما مرسته وکړه چې نۀ اړیکه وم، نۀ د روهونکے وم، نۀ ځورونکے وم، نۀ زۀ ، نۀ مې کورنۍ له رښتیا څخه وا وښتو".(۲۷)

د پورته رانقل شوئې حوالې څخه که یو خوا د پښتو ژبې قدامت ثابتېږي نو بل خوا له دغه قدامت سره ذکر شوئې حواله دپښتوژبې د آفاقیت او عالمګیریت نخښې هم په ګوته کوي ، چې داریوش د نورو ژبو تر څنګ د پښتو ژبې څخه استفاده کړې ده او دا چې پښتو ژبې و ادب دومره صلاحیت درلود چې د ټولنې د عام و خاص وګړیو د احساساتو ترجماني دې وکړے شي. د پښتو ژبې د آفاقیت نشانونه مونږ د دې ژبې په پخواني آثارو (د اسلام تر مخه آثارو) کښې په واضح ډول محسوسولے شو، چې دې ژبې په خپل چاپېریال یو بې پایانه اثر

پرېښبنـــې د ے، د داریــوش د زمـــانې نــه وروســـته د بغـــلان ( 240 ق م ) پـــه ډېـــر لیـــك کښې هم د دې ژبې د ادبي آثارو واضح څرکونه په نخښنه شوي دي.

د پښـتو ادب آثـار پـه کوشـاني دور کښـې او بیـا د رګ ویـدا (د سنسـکرت) او د اوسـتا پـه ادبـي پـانګو کښـې هـم د پښـتو ژبـې د همـه ګیریت اسـاس څرګنـد د ے او پـه تـاریخي دلائیلـو دا خبـره پـه ثبـوت رسـېدلې ده چـې سنسـکرت او اوسـتا د پښـتو د دوو لهجو جلا جلا طرز او یا د پښتو ژبې خو یندې دي.

د پښـــتو ژبـــې او ادب د عالمګیریـــت لرغـــوني رېښـــې څـــۀ رنګـــه چـــې د سنسـکرت او اوسـتا پـه ادبـي اثـارو کښـې یـا د دې دوو سـترو مـذهبي کتـابونو د لیـك طـرز او د مـوادو پـه انداز کښـې د پښـتو لـه لرغـوني اولسـي ادب یـو نـه یـو تـړون او علاقـه ضـرور ښـایي ،پرتـه لـه دي دپښـتون قـوم د لرغـوني حیثیـت پـه بـاب دا هـم وئیـل کېـږي چـې دا قـوم د هند(بهارتـه قبیلـه ) اود پـارس لـه نـورو قومونـو سـره د راکوچېدوپـه مهـال خپـل لرغـوني حیثیـت کښـې تغیـر ښـودلے، لکـه د پښـتو یـوه زړه کرلاټـي قبیلـه "کاسـي" د مسـکن پـه حوالـه پروفیسـره ډاکټـر وهـاب اشـرفي لیکـي: " موجـوده لُرسـتان کـے وسـطي حصـه زاګیـروس پهـاړون مـین کـاس قـوم آبـاد تـه اور همـدان کـے نـواح علاقـون پـر حکمـران تـه، یونـاني جغرافیـه دان استرابون ك تحقیـق هـے کـه بحیـره خـذر کـے جنـوبي علاقـون سـے یـه قـوم ادهـر آئ کسـپین اور قـزدین کـو اس قـوم کـے نـام سـے نسبت هـے اس کی تائیـد اس بـات سـے بهی هـوتي هـے کـه میـدي خـانوادے کی حکومـت سـے پهلـے همګتانـا (همـدان) کـا نـام اکاسـیه تهـا جهـان وه اتهـاروین صـدی قبـل مسـیح تـك بـاقي رهـی، ان کـی حکمرانـی اس خطـۀ ارض پـر 576 سال رهی".(۲۸)

پـه دې دلیـل د پښـتون قـوم تمـدني تـاریخ لـه معلوملـو نـه غـرض دا چـې دا قـوم بـه لاژم د خپـل تمـدني واکمنـۍ تـر څنـګ یـو متمـدن ثقافـت او متمدنـه ژبـه او د هغه مهال و ضروریاتو ته اړ پر مخ تللي ادبي آثار هم لرلي وي.

بیـا د قـدیم سـاکا یـا سـکائي قـوم د لرغـوني متمدنـه دورې پـه تـاریخي آثـارو کښـــې چـــې د پښـــتون قـــوم او دپښـــتو ژبـــې پـــه خـــواني اثـــار چـــې لرغـــون پوهـانواومورخینو پـه عقلـي دلایلـو پـه ثبـوت رسـولے، لکـه ښـاغلي عبـدالحی حبیبـي صـاحب چـې لیکـي: " اشـکانی عهـد 205 ق م سـے 225 ق م تـك هـے اشـکانی کـو پـارتهی بهـی کهـتے هـین، اور ان کـي حقیقـی زبـان ایرانـي اصـلاً آریـاؤن کـي زبـان

تهی، اس مین سکائی کے الفاظ کافی داخل هوگئے تهے، سکائي نام بهي بهت کثرت سے ملتے هین، اس کی وجه یه هے که سکائی آریاؤں کي زبان، ایرانی اریاؤں کی زبان سے بهت کثرت سے ملتے هین". (۲۹)

دلته د دې خبرې ثبوت ښودل شوے دے چې یو خو سکايي له ایراني (فارسي) سره علاقه نۀ ښايي کومه چې پښتو او یا د پښتنو د سکايي قبیلې پښتنې لهجه یا ژبه ده، په اشکاني کښې د دې الفاظو دخل او د سکايي نومونو په کثرت سره استعمال هم د دې قوم او د ژبې مدني احوال په ثبوت رسوي او دا خبره سمه نۀ ده چې: " اوستا د یوې علاقې ژبه وه نو پارسي د هغې د یو بلې صوبې ژبه وه، ځکه چې اوستایي ژبه د سنسکرت د ویرونو له ژبو سره قدرې نژدېکت لري، نو دا وئیل کېدے شي چې اوستایي ژبه د سنسکرت سکه خور وه "(۳۰)

د دې بحث په اساس که هر کله د اوستا او سنسکرت اصل متون تر لاسه شي، نو له دې سره به د پښتو ژبې او ادب د لرغوني دورې همه ګیر او عالمګیر حېثیت هم معلوم شي چې دا ژبه د دې جوګه وه چې د هغه وخت د روحانیونو یا مذاهبو ژبه دې وګرځول شي. د پښتو له لرغوني همه ګیرې دورې له څېړنې نه را په دې خوا د اسلامي دورې په ادبیاتو کښې د "پښتو ادبیاتو تاریخ" د 120هـ نه تر 925هـ پورې د شاعرانو او ادیبانو د ادب ستر حیثیت را پېژني کوم چې مبهم دور بلل کېږي او پټه خزانه یې اثبات وړاندې کوي چې د لویکانو کورنۍ د پښتو ادب رو زنه، بیا د شنسبیانو د کورنۍ شاعرانه ذوق (د امیر کروړ رزمیه شعر) د شیخ اسد سوري نه تر سلیمان ماکو پورې د بیلا بیلو کورنیو یا اشخاصو انفرادي و اجتماعي ادبي خدماتو نمونې په راوړلو کښې له مونږ سره مرسته کوي.

د پښتو ادب لرغوني دوره چې د 120 هـ نه د بایزید روښان تر دورې پورې محیط لري، د پښتو ادب د قیاساتو او یا په مفروضو قائم دور په نامه سره پېژندلے شي، دغه دوره ته د پښتو ادب د هر دور په نسبت د ادب د سکوت یا تاریک دور هم وئیلے شي، ځکه چې د یو قوم د ادب به تر دا بل پرېوتے حال نور څۀ وي چې د هغۀ درست زرکلن ادبي تاریخ دې په قیاساتو مبني وي، او هیڅ یو کتابګوټے قدر دې هم د نمونې په توګه ونۀ لري. البته د روښاني تحریک له پېل کېدو څخه پښتو ادب ته په هره حواله بشپړ اسناد په لاس ورځي، د لیکدود

لیـاريږ چـارېږ، د کتـابونو شـته والـے، د موضـوعاتو پراختیـا، د ادیبـانو و شـاعرانو د یــو مکتــب پــه رسـمي ډول را منځتــه کېدنــه او ځنــې داسـې نورمحرکـات چــې د پښـتنو د وطنیـت او قومیـت د تحریـك سـبب ګرځېـدلي ویږیـا پــه نظـر راځـي. پیـر روښـان نـۀ یـواځي د پښـتو ادبیـاتو پـه تـاریخ کښـې د سـتر ادب مقـام ځښتـن بلـل شـوے دے بلکـې د پښـتون قـوم د وحـدت او ملـي پـاڅون اولـین محـرك پـه حیثیـت هـم لـوئ مقـام ورتـه حاصـل دے، د پیـر روښـان د دور ادبـي سـاخت و ماهیـت هـم د هغـه وخت د نورو ګاونډي یـا ځنې نورو پـر مـخ تللیـو ادبیـاتو پـه څېـر بنـه غـوره کړئـې ده، یعنـي پیـر روښـان یـو دم پښـتو ادب لـه اولسـي و عـوامي طـرز نـه د نـړۍ د نـورو مروجـه طـرزِ ادب پـه انـداز را سـم کـړ، دغسـي د پیـر روښـان شخصـیت پـه پښـتو ادب او د پښـتنو د قـومي تحریکونـو پـه حوالـه پـه څـو ډولـه د اهمیـت وړ دے، یـو دا چــې دۀ شـعوراً پــه پښـتو ژبـه پښـتنو تــه د لیـك لیکلـو طریقـه کـار وروپېژنـد ، خپلـه کـورنۍ او مریـدان یـې هـم دې تـه امـاده کـړل چـې پـه دې ژبـه کښـې لیـك تـه ادامـه ورکــړي، او داچــې مخـالفین یــې پـه دې مجبـور وو چــې د دۀ د فکـر پـه اسـاس دې د دۀ طرزِ انداز پېروي په ادب او تصوف کښې اختیار کړي.

پیــر روښـان د پښـتو ادب هغـه اولـین لیکـوال دے چــې د اسـلامي نـړۍ د هغـه وخــت عــام مروجــه اصـطلاح "تصـوف" یــې پــه پښـتو ادب کښــې پــه یــو نـوي طـرز طریقت سره وڅېړلـه، یعنـي پـه ټولـو اسـلامي صـوفیانه سلسـله طریقت او د هغـې پـه لیکلـي ادب کښـې یــې یـو نــوے انعکــاس د تصــوف د وحــدة الوجــود د اتــۀ مقاماتوپــه ټـاکلو کښــې وړانــدې کــړ. د پښـتو لیکـدود وضـع کـونکے دے چـې پـه نوي طرزکښې ئې توري ورته جوړکړل، لکه دولت لوانړے چې وائي:

افغـــاني لفـــظ مشـــکل ؤ لوســـت ښـــکوې نـــۀ شـــو
ورتـــــه وو شـــــو کننـــــده دیـــــارلس حرفونـــــه

پــس لــه دې پښـتو شـعر و ادب پـه دربـیم پـړاؤ کښـې یعنـي پـه یولسـمه پېـړۍ کښـې پـه خپلـه آبـاده زرغونـه مځکـه یـو داسـې نومیـالي تـه ځـائ ورکـوي چـې هغـه د درسـت افغـان ملـت ننګیـال او د پښـتو شـعروادب بابـا بلـل کیـږي، دغـه نومتـو شخصـیت چـې پـه تـاریخ کښـې ورتـه ملـي قهرمـان سـتر خوشـحال بابـا وائـي، پښـتو شعر و ادب ئې په خپل دور هغه مقام ته رسولے چې چا یې تصور هم نۀ شو کولاے.

د پښتو ادبیاتو تاریخ په لوسته کښې مونږ ګورو چې د پیر روښان د دورې نه پسته پښتو ادب (یعني د خوشحال بابا په زمانه) د دې جوګه کېږي، چې له نړیوال ادب سره سیالي وکړي، ځکه هغه عوامل چې د نړۍ د نورو پر مخ تللیو یا آفاقي حیثیت لرونکیو ادبیاتو لرل، هغه د خوشحال بابا په زیار په پښتو ادب کښې داخل کړل شو، یعني خوشحال بابا اولین شخصیت دے چې پښتو ادب یې شعوراً د اولس داحساساتواوجذباتو د نمائنده ادب په حېث متعارف کړ، دۀ غوښتل چې پښتانۀ دادب له لیارې دجهان علوم تر لاسه کړي او دا چې دیو ملت د وحدت اوخپلواکۍ له جذبې سره اشنا کړي، پرته له دې په خپلواشعارو کښې پښتون قوم د دین اسلام په اړه له هر اړخیز مسایلو څخه خبروي او غوښتي ئې دي چې پښتانۀ په صحي معنو کښ د دین په دائره کښې داخل شي .خو خوشحال بابا یواځې په خپلو افکارو کښې د مغل نه کرکه، د پښتنو د اتفاق هلې ځلې، د بې اتفاقۍ نه فریاد او یا د پښتنو د پرګنیز ژوند ژړا نۀ ده را وړې بلکې د پښتني ټولنې په داخلي انتشار، جهالت او پرېوتي حالت سره سم یې د هغه وخت د نورو قومونو او اولسونو د بحرانونو تذکرې هم را وړئې دي، دې سره سره هغۀ د جمهوریت، مساوات، عدل و انصاف او انساني وروروالۍ یا د یوې همه ګیرې معاشرې په جوړښت هم زور اچولے دے، دا بیله خبره چې د خوشحال بابا دغه فکر وروستو عملاً پښتنو ورپسې ټینګ اختیار نۀ کړ.

خوشحال بابا پښتو شعر و ادب ته د درست شرق و غرب په مقابله کښې یو عالمګیر او لاثاني مقام وګاټۀ کوم چې د هغه وخت دذکر وړ ژبې لکه فرانسیسي، انګرېزي او پارسي هم لیا نۀ وو تر لاسه کړے،نوکه خوشحال بابا په خپل کلام کښې د موضوع و مضمون د نزاکت له پلوه، د خیال و فکربلندۍ په حواله، د مضمون افریني او هم د بلند پروازۍ له کبله چې د خپل کلام د عالمګیریت او د خپل شخصیت د آفاقي ظهور په حقله که دا نعره کوي چې:

نۀ به زما غوندي بل تنګیالے را شي
نۀ به زما غوندې بل جنګیالے راشي

ختهك لا پرېږده په درست افغان کښې
عجب که هسې فرهنګیالے راشي(۳۱)

نو دا په خوشحال بابا جوړه وه ځکه چې:

"خان علیین مکان نه صرف اپنے عهد کا سب سے بڑا مصنف تھا بلکه پښتو ادب کی ساری تاریخ مین شاید هی کوئی دوسرا ادیب هو جس نے اس زبان مین مختلف و متنوع مضامین پر نظم و نثر کي اتنی متعدد و بلند پایه تصنیفات و تالیفات چھوڑی هوں جتنی که خان علیین مکان نے ........... ".(۳۲)

خوشحال بابا د خپلو اشعارو په رڼا کښې د پښتو ژبې و عالمګیر حیثیت ته داسې متوجه دی چې:

د خوشحال خټک په ژبه برکت شه
چې وئیل که په پښتو له هره بابه(۳۳)

او د پښتو عظمت او لوړتیا د عوه داسې کوي:

چې خوشحال خټک یې وائي په پښتو ژبه خبرې
په فارسي ژبه به نهٔ وي که پوهېږې سخن هسې(۳۴)

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنا مې دشیراز او د خجند کړ(۳۵)

غرض دا چې د یولسمې پېړۍ نه را په دې خوا پښتو ادب د آفاقیت په تکل کښې د خوشحال بابا د علم و هنر په کمال د خپل معراج درجې ته و رسېد ، ګویا خوشحال بابا په خپلو علمي و ادبي هڅو کښې پښتو ته نهٔ یواځې د ادبي سیالۍ مضبوط بنیادونه ورسم کړل بلکې پښتو ته ئې په ځلنده دائمو لوړو برجو کښې آفاقي حیثیت هم وبخښهٔ او خوشحال بابا په خپله هغه اولین شخصیت دے چې دخپل کلام زور و عظمت ور معلوم وو ځکه خو ئي دا په ډاګه ووئیل چې ،:

افرین دې په وئیلو شه خوشحاله!
چې د تورو ریژول کړې په قلم کښې(۳۶)

هسې خو مونږ په دغه دور کښې د عبدالرحمٰن بابا ، د خوشحال بابا دکورنۍ د نورو وګړیو ، د حمید بابا او د حافظ رحمت خان د کورنۍ د ځنې

شاعرانو ادبي هڅې هم وینو، خو پس له خوشحال بابا نه په پښتو ادب کښې مونږ ته هغه ادبي تسلسل کوم چې خوشحال بابا په مضبوط بنیادونورا روان کړے وو په نظر نۀ راځي، ځکه چې په وروستو مهال د ملي، قومي و وطني احساس کمبوت او د پښتنو د مرکزي قیادت بحران یو وار بیا پښتانۀ او هم پښتوادب د قحط الرجال له کیفیت سره مخامخ کړو، که څۀ هم د قیادت بحران یې د پښتونخوا په غربي لمنو کښې میروائس خان او احمد شاه ابدالي ته د قندهار واك په لاس ورتلو سره ترڅۀ حده حل کېږي ولې ادبي او علمي ستونځې یې هم هغه ارتعاش نۀ ښایي لکه د خوشحال بابا جلالي فکر چې درلودې.

دا بحران تر هغه په پښتو ادب کښې را روان ښکاري تر څو چې د نولسمې پېړۍ مستشرقینو ته د پښتو خدماتو په تکل کښې درې احمدیان (مولوی احمد، میر احمد شاه رضواني او منشي احمد جان) په لاس ورځي، دغسې د دې احمدیانو په همت پښتو ادب په شلمه پېړۍ کښې د یورپ د نویو نویو ادبي اصنافو سره اشنا کیږي، وروستو راحت زاخیلي، ماسټر عبدالکریم، عبدالاکبر خان اکبر، عبدالخالق خلیق او د خدایي خدمتګارو نور ډېر تکړه ادیبان پښتو ادب د اولس د احساساتو نمایندګي ته هڅوي او دوئ شعوراً پښتو ادب د نړۍ د ادبیاتو له موضوعاتو سره شناسا کولو کښې بریالي کیږي.

د تحقیق په میدان کښې د بره خوا نومیالي لیکوالان د جهان له ادبیاتو څخه راز راز غوټۍ د پښتو تازه بڼ ته را وړي، لکه ګل باچا الفت، قیام الدین خادم، عبدالحی حبیبي، صدیق الله رښتین، عبدالرؤف بېنوا، عبدالرحمٰن پژواك، عبدالشکور رشاد، ډاکټر حسن کاکړ، ډاکټر زیار، شهسوار سنګروال نیازے، هېوادمل زلمے، حبیب الله رفیع او ځنې نور.

او د کوټې په پښتني سیمه کښې استاد سید عابد شاه عابد، ،پوهاند سیال کاکړ، پروفېسرصاحبزاده حمیدالله ،پروفېسر رښوازمائل ،عبدالکریم بریالے، سعید ګوهر،خېر محمدعارف، درویش درانے، پروفېسر رازمحمد راز، محمود ایاز،فاروق سرور، عبدالرؤف رفیقي ، ، ډاکټر علي کمېل قزلباش، سهېل جعفر، رازق فهیم، ځوان کمکے شاعر حافظ رحمت نیازے او ځنې نور د پښتو جدید ادب په پر مخ بېولو کښې ستر خدمات تر سره کړي.

د پښتنو د تاريخ او د پښتو ادب په وروستني احوال کښې که د ثور د انقلاب (يا کودتا) په ردعمل کښې تخليق شوي پښتو ادب ته ځير شو نو بغېر د څۀ مبالغې وئيلے شوچې د دغه ادب له امله د پښتو په علمي او ادبي پنګه کښې بې کچه اضافه شوې ده او د دغو اضافو په نتيجه کښې مونږ دا هم وئيلے شو چې پښتوژبې او ادب اوس د پر مخ تلليو ادبياتو په قطار کښې د اودرېدو جوګه شوې ده ، د دې بحث په اخير کښې مونږ په دا نتيجه رسېدلي يو چې پښتو ژبه يوه ژوندۍ، متحرکه او فعاله ژبه ده، د دې ژبې په ادب کښې وسعت شته، آفاقيت شته، د انساني اقدارو احترام شته او د خپلې ټولنې د عکاسي تر څنګ د نړيوالې انساني ټولنې احساساتو ته هم د خواخوږۍ ښکارندويه احساس لري، کوم چې د نړۍ په نورومترقي ژبو کښې ادراک کېدلے شي ، "ايك زنده زبان كا ادب پڑهتے وقت همارى ملاقات ان زنده انسانون سے هوتى هے جو اس مين زندگى بسر كرتے هين".(۳۷)

## د پښتو ژبې و ادب په نړيوال حيثيت

### عمومي تبصره او يو څو وړانديزونه :

لکه څنګه چې وړاندې بحث کښې مونږ ذکر کړے دے چې پښتو يوه لرغونې ژبه ده او په زرګونو کالو زوړ تاريخ لري ،خو د دومره زوړ والي باوجود د پښتو علمي او ادبي پنګه کښې تحريري مواد ډېر کم په نظر راځي او دې لړ کښې مونږ دا وئيلے شو چې پښتو ژبه څۀ قدر د جمود سره مخامخ شوې ده او په دې دومره لويه موده کښې ئې هغه هومره وده نه ده کړې څومره چې په کار ده ، د دې جمود ډېر زيات عوامل دي خو بيا هم چې پښتو ژبې خپل وجود تر دې دمه ژوندے ساتلے دے ، نو مونږ وئيلے شو چې پښتو يوه ژوندۍ ژبه ده ، په دغه ژبه کښې ډېر زيات لچك دے ، دغه ژبې په خپله جولۍ کښې مختلفو علومو ته ځائ ورکړے دے ، چې د ثبوت په توګه مونږ د روښانيانو دور ، زرين دور او شلمه پېړۍ کښې تخليق شوے ادب پېش کولے شو .په دغه دورونو کښې که يو خوا آفاقي ادب تخليق شوے دے نو بل خوا د دې نه دا خبره هم جوته ده چې پښتو ژبه د زماني سره د تګ کولو توان هم لري .په دې حقله نومتو نقاد فاخر

حسین په خپل کتاب " فرانسیسي ادب کې اثار " کښې د ژوندۍ ژبې نخښې داسې په ګوته کوي :

""ترقي یافته زبان صرف وهی نهین هوتي که جس مین الفاظ کا ذخیره سب سے زیاده هو یا جس کے بولنے والے بهت زیاده هوں، بلکه اصل ترقي یافته زبان وه هے که جو زمانے کے ساته ساته چلنے کی سکت رکهتي هو اور جسے وقت کي صداؤں سے هم آهنگ هونے کا سلیقه آتا هو، دوسرے لفظون مین یهی بات کهی جا سکتی هے که ترقي یافته زبان اسے کهتے هین که جس مین جهاں معنی کے هر پهلو کو بے نقاب کرنے کي سکت هو".(۳۸)

چونکې ژبه او ادب هم د یو قوم د ثقافت یا د ژوند د اقدارو د ترجمان حیثیت لري او په دې کښې د انسان د زماني تاریخ او روایات خوندي وي، ځومره چې د یو قوم د ژبې او ادب معیار لوړوي هغومره د هغه قوم د تمدن او تهذیبي آثارو پیمانه غوره ګڼله شي، که د یو قوم ژبه او ادب کمزورې وي یا نیمګړتیاوې لري نو په هغه معیار د هغه قوم ذهني و فکري تغافل هم د هغوئ د ژبې او ادب له پانګې څخه معلومېدلے شي ،خو د یو قوم د ژبې د معیار لوړوالي سره سره د هغه قوم په ادب کښې د بیلا بیلو علومو وفنونو په حواله د لیکلي ادب ذخیره هم یو ستر معیار ښایي.

د یوې ژبې د معیاري و مترقي ادب تخلیق داسې نۀ ده چې په هوا کښې تخلیق کیږي یا هغه په لاشعوري توګه له یو چا څخه ورته په میراث کښې پاتې شوې وي بلکې دمترقي ا قوامو دمترقي او تخلیقي ادب په پرمختیا و سپېځلتیا کښې د هغه قوم علم دوسته طبقه، علماء او پوهان شعوراً برخه اخلي، کله چې دوئ ته (پوهانو او ادیبانو) د خپلې تولنې په چاپېریال کښې (د اولس په ژوند کښې) څۀ نیمګړتیاوې یا ناوړه اضافتونه محسوس شي نو دوئ ئې د اصلاح اوسمولو هڅې پېل کړي، ځنې له دوئ څخه داسې هم وي چې هغوئ د خپلې ژبې سپېځلتیا او لوړتیاته بیاځانونه وقف کړي او غواړي چې د ژبې داخلي ساخت ته لیا پراختیا او وسعت ورکړي په دا غرض دهغه ژبې په ادب کښې ډول ډول تجربات کوي، کوم چې د وخت د تقاضو او داولس د خبر و ښېګړې په خاطر لازم وي . دغسې د یوې ژبې د ادب په عالمګیریت کښې که څۀ هم د علماوو او لیکوالو برخه زیاته وي، ولې ژبه و ادب د اولس په جذبه و شوق

او د دولت په مرسته د ترقۍ وروستي منزل ته رسي، لکه د نړۍ داوس مهال درستي مترقي ژبې او دا هغوئ ادبياتو هم په دغو اصولو ځانته يو انفراديت غوره کړې دې. لکه د فرانسيسي، انګرېزي، روسي، چيني، عربي ژبو په مثال چې دخپلودولتونو له خوا او هم د اولس له خواورته هر مرسته حاصله ده.

اوس که مونږ د پښتو ژبې وادب عالمګيريت ته پام راګرځوو نو دلته دوه صورتونه راځي، يودا چې پښتو ژبه وادب په داخلي توګه د هرې بلې مترقي ژبې په څېر د اولس د عام روزه مسايلود نمايندګۍ بشپړ استعداد لري، لکه د ګرائمري ساخت په لحاظ، د توريولويه ذخيره لرلو په مناسبت، دهرډول اصطلاحاتو،محاورو او تراکيبو يا د جملود جوړښت په اساتياو کښې، ولې په نړيواله توګه چې دې ژبه د وخت او حالاتو د تقاضو مطابق د رد و قبول په پيمانه څومره ځان غوره کړے ،دغسې به د نړۍ ډېرې کمې ژبې وي چې هغه دې دا ډول اوصاف ولري، نو پښتو ژبه او ادب د خپل ساخت و جوړښت په حواله تر يوۀ حده سپېڅلي اوصاف په ځان منلي دي،البته دا وئيل به بې ځايه نه وي چې د خوشحال بابا له دور نه پسته بيا تر شلمې پېړۍ پورې پښتو ژبه وادب د يو ستر جمودي کيفيت سره مخامخ شول، ځکه چې نۀ خو مونږ بيا هغه د خوشحال بابا طرز جاري وساتلے شو او نۀ مو نوې اضافې په کښې وکړلے شوې.

خو په شلمې پېړۍ کښې بيا د پښتو ژبې او ادب د ترقي او عالمګيريت شعوري کوششونه د هغه وخت د افغان ملت له بادشاهانو او امراوو له خوا ليدل کيږي لکه د امير شېر علي خان په نظامي چارو کښې ، د امير عبدالرحمٰن اود سردار داؤد خان شهيد له خوا په دولتي ،نظامي او ځنې ښونځيو کښې پښتو ته لياري سمې کړې، دغسې په لره خوا کښې د هغه وخت د انګرېزي دولت د اړتياوو او د اولس د شعوري بيدارۍ له امله د پښتو ژبې و ادب پر مختيا ته د عام و خاص توجه اوړي، خو دا بيا هم په دومره اندازه نۀ ده چې مونږ دې پښتو د هغه وخت د لوړو ژبو يا ادبياتو په حساب کښې وګڼو.

د يوې مترقي او لوړې ژبې دپاره لازمه ده چې د خپل فرهنګ او کلتوري تمايل د نورو ژبو له فرهنګ او کلتور سره د اخذ او ورکړې ماده لري، ځکه چې که "يوه ژبه که څۀ هم ډېر قوي بنياد او وسعت او صلاحيت ولري، مګر که د فرهنګي او کلتوري تمايل وسيله نهٔ وي، د يوې بلې فرهنګي ژبې سره مقابله نۀ

شي کولے نو هغه غالبه ژبه د فرهنګ او ثقافت په وسیله دغه خپله مقابله ژبه له منځه باسي".(۳۹) دغه شان چې تر څو پښتو د اولس د فرهنګ او ثقافت برخه و نهٔ ګرځول شي ممکنه نهٔ ده چې دا دې خپل وجود د نړۍ په دې الغاؤ تلغاؤ کښې قائم و ساتلے شي، دا هم لازمه ده چې د فرهنګ او ثقافتي اقدارو د ژبه کېدو سره سم دا دې د علماو د افکارو داظهار وسیله هم وي.

" پښتو له یوې اوږدې دورې تغافل نه پسته په شلمه پېړۍ کښې تر دا حده را رسېدلې ده چې دا اوس په نوي ژوندانهٔ کښې پل ږدي او دې خوا ته توجه کوي چې خپله ژبه په نوي اساس او علمي ډول و روزي او د دې وړ یې کړي چې د وطن د اینده علمي او رسمي چارې ټولې په دغه ژبه هم وکړي".(۴۰)

خو په نړۍ کښې د سائینس وټیکنالوجۍ تېز ترین ترقۍ او ایجاداتو په مخکښې ډېرې کمې ژبې دا صلاحیت لري چې خپل وجود قائم وساتي او اکثره ژبې دختمېدو او له مینځه تللو خطرې سره مخامخ دي . نو که مونږ غواړو چې د خپلې ژبې وجود قائم وساتو او هم یې ادب د نړۍ له معیار سره سم روان کړو نو به په خپله ژبه کښې د لغاتو ذخیرې وسیع کولو هڅې لیا پسې پلې کوو چې په دې کښې د هر ډول نوي شیانو، ایجاداتو او اختراعاتو دپاره به د فرانس، برطانیه، یا ځنې نورو مترقي ژبو او ادبیاتو داکېدمیانو په شان خود مختیاره اداره جوړول لازم وي، ځکه چې د نن د سائنس و ټیکنالوجۍ د ساعت ایجاداتو په مقابل کښې هره ژبه نویو توریو ته اړتیا لري، او که چرې داسې و نهٔ کړل شي، نو ډېر زر به هغه ژبه د نورو ژبو د یلغار لاندې شي،پرته له دې په ژبه او ادبي هلوځلو کښې یومخیز څېړنو ، پلټنو، تبصرواو تحقیق ته فوقیت ورکول هم یو مهم حیثیت لري ځکه چې د نړۍ د ټولینز ژوند د ترقۍ ټول دار و مدار هم دغه د تحقیق په میدان پورې تړلے دے، پرته له دې څومره چې د یوې ټولنې ژبه قوي وي هغومره به اولس قوي وي او څومره چې اولس قوي وي دغومره به یې اقتصادي وضعه او حالت قوي وي، او د یو قوم په ټولنیز واقتصادي نظام کښې پراختیا د هغه ټولنې د علماوو په ذهني و فکري استعداد پورې اړه لري چې هغوئ په خپله ژبه اولس د بیدارۍ او هنرونو د اختیارولو څومره اساتیاوې وربرابروي ، یعنې د یو قوم باشعوره طبقه که په قومي شعور او ملي احساس د اولس ستونځو ته حل د خپل افکارو په رڼاکښې باسي نو یقیناً هغه ټولنې او

اولسونه د جهان په دې سيالۍ کښې ځانته منفرد مقام تر لاسه کولے شي، خو د دې منفرد حيثيت يا عالمګيريت قائم ساتلو دپاره ضروري ده چې په ټولنه کښې د باسوادو خلقو شرح لوړه وساتل شي.

هم په دغه تله که مونږ غواړو چې د پښتو ژبې او ادب يو معيار دې ولرلے شي نو زمونږ د ملت زياتره نالوستې طبقه د لوست درجې ته او لوستې طبقه د علم پوهې او تحقيق درجې ته بېول به لازم وي. دغسې پښتو به د فرهنګ او کلتور برخه ګرځولو سره په ښوونځيو او پوهنتونونو کښې د درس و تدريس په حيثيت را منځته کوو، د سائينس و ټيکنالوجۍ د جديد دور د تقاضو مطابق هر چرته به د علومو اکېډمۍ په تحقيقي بڼه سنبهالې جوړول وي، چې هغه د مارکېټ، کارخانې، کامرس و بزنس ضروريات په نظر کښې ساتي، خو د دې هر څۀ سره سم يو بل مهم جز کوم چې له ډېرې زمانې څخه د پښتو ژبې او ادب په وحدت و مرکزيت يا پرمختيا کښې ستر خنډ منل شوے دے، هغه د يوې کره معياري او مستندې لهجې اطلاق کول په ليك او هم په وينا کښې دے، ځکه چې د نن د زمانې د تېز رفتار ضرورياتو په دې زغل کښې څوك دومره وخت و فرصت او سرمايه نۀ لري چې هغه دې په يو نه پوهېدونکي، جنجالي، يا په تکليف سره پوهېدونکي ليك (کتاب) سر متې کړي، نو مونږ ته لازمه ده چې به اخېر يو او واحد ليکدود ته اماده کېږو پسته له دې به د ترجمه او تاليف ميدان ته هم پياوړتيا ورکول وي ځکه چې: "اوس يوائينۍ لار دا ده چې پښتنانۀ خپله ژبه د ضرورت ژبه کړي او دا کار به څنګه کولے شي. د درست پښتنو له پاره يوائينۍ لاره دا ده چې د تاليف او ترجمو له لارې معاصر اجتماعي او سائنسي علوم پښتو ته را دننه کړي".(۴۱)

په دې کښې هيڅ شك نۀ شته چې د نړۍ اکثره مترقي ژبې او ادبيات په يو وخت کښې د خپل پراخ اولسي ادب څخه په استفاده تر دغه مقام رارسېدلي او د اولسي ادب له فطري اد بې ذخيرې څخه يې جديد يا فني ادب پانګه ته ډېر څۀ را پور کړي ، په دا حواله که پښتو ژبه او ادب ته په نړيوال ادبي بهير کښې اهم مقام ورکول مقصود وي بيا به د پښتو خپل اولسي ادب ته هم خصوصي توجه ورکول وي ځکه چې زمونږ د اولسي ادب شعري اصناف چې کوم ډول فطري صلاحيتونه لري هغه د نړۍ ډېر کم اولسي ادبيات لري، خو دا په دې

اساس نه چې مونږ دې د جديد فني ادب څخه ځنګ ووهو بلکې مونږ که خپل فني ادب داولسي ادب په امتزاج آراسته کړو نو يو خو به د پښتو اولسي ادب محفوظ پاتې شي بل د نويو نويو تخليقاتو ليار به هم خلاصه شي، ورسره دا چې د پښتو کلاسيك شاعرانو له کلياتو څخه د اهغوئ استعمال کړي غوره اصطلاحات، تراکيب، زاړهٔ لغات او محاورې بېرته په استعمال کښې را وستل شي، په اوس مهال چونکې د طباعت کارونه ډېر اسانه شوي او له فونډري ليك څخه معيار تر کمپيوټري ليك پورې را رسېدلي دي، نو د پښتو ليکدود اساني او د کتابونو زر خپرونو دپاره بايد چې د کمپيوټر له ګټو زياته استفاده وکړل شي، که هغه د مشينونو په ارزيابي وي او يا د ټيکنيکل عملې د روزنې کار وي، دا به د اهميت وړ وي چې مونږ کمپيوټر ته يوه معياري او مرکزي لهجه ور وپېژنو کومه چې عام فهمه، ساده، مختصره او د هر چا د پوهې وړ وي، نهٔ دا چې له يو ټکي او توري څخه دې څو غږ ونه مراد اخلو.

د توريو د رد و قبول يا دتوريو پورول دې هغه وخت اخستل کېږي، چرته چې ورته ناکام وي، نهٔ دا چې قصداً يا د فېشن په توګه د نورو ژبو د توريو يلغار دې د خپل علميت او پوهې ښودنې په غرض را وړل شي. د لسانياتو يوه شعبه دې د پوهنتونونو په چوکاټ کښې په مستقله توګه کار کوي چې زياتره د تدريس او تحقيق چارې دې ور په غاړه وي، پرته له دې " د ليکوالو د ژوند شرائط دې اسانه کړل شي، اديبان او مؤلفين دې تشويق او تربيه شي، د دوئ د ژوند مادي شرائط او حقوق، د دوئ د کار او وظيفې د اهميت او دروندوالي او د ژوند د ضرورياتو د واقعي تناسب له مخه تعين شي، او معنوي او علمي پرمختګ دپاره يې په داخل او خارج کښې دروازې پرانستې شي".(۴۲)

ولې د نننۍ مهال د مېډيا (پرنټ او اليکټرانك) د اهميت او ستر کردار له وجې لازمه ده، چې پښتو ژبه له دې لياره په دولتي او هم شخصي، پرنټ مېډيا يا اليکټرانك مېډيا کښې دې ستر ځاے ولري.

## د دې بحث خلاصه که په اختصار وړاندې شي نو هغه به داسې وي

پښتو ژبه او ادب دې د رد و قبول په ماده بنا وي، هر چرته چې د پښتو خپل اصطلاحات، لغات، محاورې او ځنې نور لوازمات پيدا کېږي هغه دې په

کار را وستل کيږي، د پرَدَيو ژبو توري، اصطلاحات و تراکيب دې به امرې مجبوري قبولولاے شي. د پښتو ژبې خپل ګرائمر دے د دې ژبې د داخلي ساخت پر بنياد ورغول شي. د سائنسي و ټيکنالوجۍ د تېز رفتار ترقۍ او ايجاداتو د نويو نويو نومونو دپاره دې د ژبو خصوصي اکېډمۍ جوړې شي.

د اديبانو، پوهانو او روشنفکرانو د معاش او د ژوند د نورو آسانتياوو ليارې دې ولټول شي، د دوئ د تخليقاتو او تحقيقاتو دې په دولتي سطح خپرونه او مرسته وکړل شي، زمونږ کلاسيک ادب دې بېرته چاپ کړل شي او د هغوئ د متنونو دې خصوصي تحقيقي څېړنې او پلټنې وکړل شي. د املا و رسم الخط شرائط دې اسان کړل شي، په دولتي توګه دې د ژبې زده کړه، فعاليت او نفاذ يقيني کړل شي او هر هغه څوک چې په پښتو خبرې کونکيو ته متعصبه او تنګ نظره وائي نو د خداى بخښلي محمد صديق روهي په قول: "که په خپله ژبه خبرې کول تعصب وي، نو په نړۍ کښې هيڅ څوک بې تعصبه نهٔ شته". خوکه هر پښتون خپل ملت پاله نظر د حمزه بابا په قول داسې وساتي چې:

پام کوه زهٔ هغه نظر نهٔ يمه
چې به په دود د سپيلنو سره ځم
وايي اغيار چې د دوزخ ژبه ده
زهٔ به جنت ته د پښتو سره ځم

❁❁❁

# حوالې


(1) کشفی، سید ابوالخیر، ډاکټر، 1982ء همارے ادب کے آفاقی رشتے، مشموله، پاکستانی ادب تنقید نمبر، ج 5، مرتبین: رشید امجد، فاروق علي، فیډرل ګورنمنټ سرسید کالج راولپنډي، ص 532.

(2) دغه بره، ص 533.

(3) اولډ پرشین، ص 129، په حواله عبدالحی حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ، ج اول و دویم، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، 2005ء ص 321.

(4) ایران عهد قدیم کی سیاسی و لسانی تاریخ، ص 42، 44، په حواله، وهاب اشرفی، تاریخ ادبیاتِ عالم، 2006، ج اول و دویم، ص 275.

(5) اشرفی، وهاب، پروفیسر، ج اول و دویم، ص 280.

(6) دغه بره، 283.

(7) کامل مومند، دوست محمد خان، 1951ء، خوشحال خان خټک، اداره اشاعت صوبه سرحد، ص 412.

(8) دغه بره، ص 224.

(9) خټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان، اداره اشاعت صوبه سرحد، ص 206.

(10) دغه بره، ص 447.

(11) دغه بره، ص 572.

(12) دغه بره، ص 429.

(13) فاخر، حسین، 1991ء، فرانسیسی ادب کے آثار، نګارشات میاں چیمبرز 3 ټمپل روډ لاهور، ص 61.

(14) افکار عبدالحق، 1962ء، مرتبه، آمنه صدیقي، ادب اکېډمی سندهـ، کراچي، ص 1، 2.

(15) حبيبـي، عبـدالحی، پښـتو نثـر تـه کتنـه، **1360**ء ش کـال، د افغانسـتان د علومـو اکېـډمی د ژبـو او ادبيـاتو علمـي او تحقيقـي مرکـز، پښـتو ټولنـه کابـل، ص **58**.

(16) حبيبـي، **1383**، ش کـال، شـل مقـالې، راټولـونکی، مطيـع الله روحيـال، شپږمه برخه، نارنج خپرندويه ټولنه، کندهار، **104**.

(17) د پښـتو د عامېـدلو او سـر سـري کېـدلو د لارې ..... ". **1999**ء مشـموله د پښـتو ژبـې د ودې ارتيـا او ليـارې چـارې، د پښـتني فرهنـګ د ودې او پراختيـا ټولنه، جرمني، ص **65**.

(18) بختـانی، عبـدالله، **2005**ء پښـتو پالنـه او څېړنـه، دانـش خپرندويـه ټولنه، پېښور، ص **40**.